مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست

۲۰۲۴/۱۰/۱۲

# د خیبر د جرگه‌والو ازموینې

یو وخت مې له یوه تعویذکر سره مخه وه. عجیب عجیب نکلونه یې کول. یوه ورځ یې راته ویل: ځوک چې قصیده پخوي، ډیرې سختۍ ګالي. د پیریانو تابع کول اسانه نه وي. بیا یې پسې وغځوله:

زموږ یو استاذ و. نیمه شپه دښتې ته لاړه. هلته یې له ځانه درې کرښې وویستلې او بیا یې خپل اوراد شروع کړل. یو وخت ګوري چې تور سیلاب په څپو را خوشې دی، یو شور دی؛ خو دی له دایرې خارج نشو. سیلاب اوله کرښه کې وچ شو. بیا ګوري: چې خواته یې دوه ندافان کیناستل او د مالوچو ډانډس یې شروع کړ. د مالوچو لوړ لوړ غرونه جوړ شول. اخره کې دواړه خپلو کې وران شول، مالوچو ته یې اور ورته کړ، اور او لوګیو دنیا په سر ونیوله او د هغه خواته را روان و؛ خو استاذ مې له کرښو ونه وتلو.

بیا چې ګوري نو په سر یې یوه کمزوری اوږدو پښو والا مرغه ولاړ دی او منګولو کې یې د یوې کوټې هومره ډبره نیولې ده او وزرونه رپوي؛ خو استاذ بیا هم له دایرې بهر نشو. نکلچي موسک شو او بیا یې په فاتحانه انداز وویل: پیریان چې پوه شول، سړی نه ویرېږي او نور د دوی وس نه رسیږي؛ نو هماغه و چې ورته تابع شول!

نو کیسه دا ده چې د خیبر جرګې والا خو تر اوسه له ډیرو سختو ازموینو تیر شول، نور لکه چې قصیده پخه شوه او د تابع کیدو وخت ده.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ